آریانا افغانستان آنلاین
http://www.arianafghanistan.com

سلطان جان کلیوال
۲۰۱۸/۰۳/۱۳

# د بودا وینا



د سړي خور له ګیډي
له هغه توری سمڅی
د تور دوزخ له کندی
بیا د (کارما) د غضبو نو لمبې
بیا د باروتو تور تبجن دودونه
د ېبرین غره په سینه پریوتل
او له پیړیو پیړیو ویده (بودا) یی
له درانه خوبه ویښ که.

بودا خندل ، خندل
او په خندا یی (اهریمن) ته و ویې:
کور دی ودان (لعیینه)
چی دی را ویښ کړم له پیړیو وروسته
تر څو تکرار کړم هغه خپله وینا
بیا د (آدم) او د (حوا) بچو ته
کور دی ودان (لعیینه)
چی دی را پاخولم.سلطان جان کلیوال
چی دی را پاڅولم.



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

ترڅو چې و وینم دا خپله نړۍ
په غړولو سترګو
په ( یو ویشتم قرن) کې
ترڅو چې بیا د (سنسارا) له سر تړلې کړۍ
له یخ وهلې ( وجود)
او له بې وینې (بدن)
خپله خبره د (آدم) او د (حوا) بچو ته
یوځلې بیا وکړمه.

چې (نیک عمل)، (نیکه خبره)، (نیک خویي) په کارده
ترڅو انسان ځني انسان جوړ شي
او د شیطان د لعنتي کورنۍ غړی نه شي.

(بودا) خندل ویل یې:
کور دې ودان (لعبینه)
چې له پیړیو وروسته
زما په یاد پریوتې
او له بشر سره دې
بیا راتازه کړلې زما اړیکې

مارچ/۲۲/۲۰۰۱

تورنتو ــ کانادا